ليکوال او شنناند نظرمحمد مطمئن

۲۰۲۰/۱۲/۲۰

# د سولې مذاکراتو تر شا؛ پټې ناستې او ژمنې؟!!




د امريکا او طالبانو ترمنځ د سولې مذاکراتو نږدې ۱۷ مياشتې وخت ونيو، د ښکېلو اړخونو ترمنځ پټې او ښکاره ناستې وشوې، يولس پړاوه مذاکرات يې رسنيز کېدل، مګر ځينې ناستې پټې پاتې کيدي.

د بين الافغاني مذاکراتو له پيله دادی دري مياشتې د طالبانو او افغان حکومت د پلاوو ترمنځ پټې او ښکاره ناستې وشوې، د افغان حکومت د پلاوي له غړو سره د طالبانو انفرادي او ټوليزې ناستې يکې وشوې.

په تيرو شل کلونو کې افغانستان ته د پاکستاني لوړ پوړو چارواکو تر ټولو ډير مهم، زما په آند د پاکستان د لومړي وزير عمران خان سفر ګڼل کيږي، چې کيدای شي د افغان حکومت او پاکستان ترمنځ ځينې پټې او ښکاره ژمنې يو بل سره شوې وي، دارنګه عمران خان تمه لري چې د پاکستان اقتصاد په پښو ودريږي، او پرته د افغانستان له ثبات څخه دا کار شونی نه دی.

افغان حکومت تمه درلودله چې پاکستان به وکولای شي طالبان اوربند ته راضي کړي، مګر د ډسمبر پر ۱۶مه، د ملا برادر اخوند په مشرۍ د طالب پلاوي او د شاه محمود قريشي په مشرۍ د پاکستاني چارواکو تر ناستې وروسته؛ قريشي رسنيو ته وويل:"په افغانستان کې د تاوتريخوالي د زياتوالي پړه يوازې پر طالبانو باید وانه چول شي."

په همدې ورځ، عمران خان بيا ډاکټر غني ته په ټيليفون کې وويل:"موږ په افغانستان کې د تاوتريخوالي د کموالي او اوربند ته رسيدو لپاره مرسته او هڅې کوو."

د ډسمبر پر ۱۸مه، لومړي وزير عمران خان له طالب پلاوي سره د لېدو پرمهال غوښتنه وکړه چې جګړه او تاوتريخوالی کم کړي.

د طالبانو او افغان حکومت د مذاکراتي ډلو غړي او لوړ پوړي چارواکي بايد متوجه وي چې د پاکستان او ايران په شمول له ټولو بهرنيانو سره د دوی د ناستو جزئيات ليکل کيږي، او يو مهال د کتاب په بڼه خپريږي، په کار ده چې د خبرو او ژمنو پر مهال يې پام وي چې د افغان ولس احساسات کوم وخت د دوی له اګاهانه او يا غير اګاهانه څرګندونو او ژمنو څخه زيانمن نه شي.

پرته له شکه، خليلزاد به د امريکا او طالبانو د مذاکراتو، او دارنګه د بين الافغاني مذاکراتو په اړه کتاب خپروي، پټې او ښکاره خبرې او ژمنې، هغه که د طالبانو، که د امريکا، ناټو، هند، پاکستان، چين، روسيې او يا نورو هيوادو او چارواکو لخوا وي، که خپله د امريکا لخوا له طالبانو، پاکستان، چين، روسيې، ناټو، اروپايي هيوادو او هند سره ژمنې وي، او د خليلزاد همدا اثر به ډير ارزښت لرونکی هم وي. خليلزاد به په قطر او اسلام اباد کې د ناستو او ژمنو اړوند معلومات خامخا خپروي.

د سولې اړوند ناستې چې طالبان يې پاکستان، ايران، ازبکستان او هر هيواد کې کوي، د ناستو جزئيات به يو وخت د ژباړونکو لخوا هم خپريږي، او کيدای شي چې د امريکا – طالبانو د ناستو ځينې جزئيات د امريکايي لوړي لخوا د ګمارل شوي افغان ژباړن لخوا هم د کتاب په بڼه ژر خپور شي.

د افغان سولې مذاکراتو کې د قطر د بهرنيو چارو استازی دکتور مطلق بن ماجد القحطاني هم کيدای شي د افغان سولې په تړاو کتاب وليکي، کوم چې له طالبانو، افغان، پاکستاني، امريکايي او اروپايي چارواکو سره د افغان سولې برخه کې په اړيکه کې او ناستې يې ورسره کړي دي.

جنرال ميلر هم په دې برخه کې له طالبانو، ارګ، قطري او پاکستاني چارواکو سره ډيرې او مسلسل ناستې کړي، او کوم وخت به خپل خاطرات ليکي، دارنګه د جنرال نيکولسن خاطرات به هم رسنيز کيږي.

د افغانستان لپاره د روسيې د ولسمشر پوتين ځانګړی استازی ضمير کابلوف به هم کرار نه وي، ناست، د افغان کشالې او سولې مذاکراتو اړوند به يې يادښتونه او ممکن کتاب کوم وخت خپور شي.




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

زما ویره له امریکا او قطري کتاب خپرونکو څخه نه ده، هغوی به تر ډیره پر حقایقو بناء، خو په افغان سوله کې د دوی د هیوادو او شخصیتو رول به پکې ډیر ښودل کیږي، مګر که د پاکستاني او ایراني چارواکو لخوا د افغان سولې اړوند خاطرې او کتاب خپریږي او یا رسنیز کیږي، پرته له شکه داسي څه به پکې وي چې په ویلو به یې افغان ځوانان د کمي احساس کوي او تر ډیره د تحریف ویره هم پکې شته. ښه مثالونه یې د سي آی اې د جاسوس ګیري شرون کتاب"افغانستان ته په لومړي ځل ننوتل"، د سي آی اې د جاسوس ګرینر کتاب " ۸۸ ورځې تر کندهاره"، د ستیوکول کتاب "S ریاست" او د زلمي خلیلزاد کتاب "استازی" دي، چې د امریکا ګټو په نظر کې نیولو، بیا هم تر ډیره د افغان کشالې اړوند حقایق پکې را څیړل شوې او لیکل شوي.
مګر د پاکستاني لیکوال احمد رشید کتاب"طالبان" زما په اند ۵۰ سلنه ناوړه تحریف، د پاکستان د ګټو، د طالب له نوم ناوړې ګټې پورته کولو باندي را څرخي. د پرویز مشرف کتاب"د اور پر لیکه"، د جنرال حمید ګل مرکې، د رحیم الله یوسفزي مرکې او لیکني، که په غور وکتل شي، له تحریف ډکې، او داچې څه ډول له افغان کشالې د پاکستان په ګټه امتیاز ترلاسه کړي.
د افغان – امریکا او طالبانو اړوند په ایران کې چاپ شوې کتابونه او لیکنې یې تر ډیره له حقیقت څخه لیري او ناسم معلومات پکې خپاره شوې.
اوس چې د پاکستان اړیکې له سعودي عربستان او متحده عرب اماراتو سره ترینګلي شوې، پرته له شکه د طالبانو په قطعې کارولو به یاد هیوادونه له ترهګري څخه ویروي، او له طالبانو سره د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر تر کتنې یوه ورځ وروسته، متحده عرب اماراتو ته د محمود قریشي سفر هم د پلان برخه ګڼل کیدای شي. دارنګه د طالبانو اړوند د هند اندیښنې لا هم پر ځای پاتې او پاکستان په دې برخه کې له خپل ټول نفوذ څخه کار اخیستی او اخلي.
په دوحه کې د بین الافغاني مذاکراتو تر وقفې وروسته، د افغان حکومت پلاوی کابل ته ستون شو، که څه هم طالبانو ته اسلام اباد د ورتګ بلنه ورکړي وه، کیدای شي دا بلنه مخکې ورکول شوې وي، مګر په دومره بیړه پاکستان ته د طالبانو ورتګ هغه هیواد ته په افغان سوله کې ډیر امتیاز ورکول ګڼل کیدای شي، مګر ښکاري چې پاکستان به په افغان سوله کې له افغان حکومت او طالبانو څخه د ببلو او ډیرو امتیازاتو ترلاسه کولو په هڅه کې وي.
طالبانو ته په کار ده چې د ګاونډیو هیوادو، منځنۍ اسیا، سیمې او اروپا ځینې هیوادونو ته خپل سفرونه جاري وساتي، تر څو په افغان سوله کې یې ملاتړ تر لاسه او د هغوی په بې طرفه رول باندي ټینګار وکړي.
له هند سره د طالبانو نه اړیکې، یاد هیواد هڅوي چې په افغانستان کې د سولئیز حل پر ځای نظامي تګلارې ته ترجیح ورکړي، که څه هم دا کار شونی نه دی، مګر د افغان سولې مخکې پروت قوي خنډ یې ګڼلای شو.
له افغانستان څخه امریکا ته لابي لپاره لیږل شوې ډالر هم پټ پاتې نه شول، د ځینو رسنیو د راپورونو پر اساس له افغانستان څخه امریکا ته بې حسابه ډالر استول کیږي او هلته د امریکا په سنا او نورو ډیپلوماتیکو چینلونو کې یې سختې ګنګوسې را پارولي چې څرنګه له یوه بېوزله او د امریکا پر مرستو پابډونکي افغانستان څخه د امریکا سنا او نورو لابي سنټرونو ته بې حسابه ملیونونه ډالر استول کیږي.
ډیره عجیبه ده چې له یو کمزوي، د سوال په روپو چلیدونکي او جګړه کې ښکېل هیواد "افغانستان" څخه د جګړې د دوام او له افغانستان څخه د امریکایې پوځیانو نه وتلو د کمپاین "لابي" لپاره، د نړۍ د ستر نظامي او اقتصادي ځواک مرکز واشنګټن ته پریمانه ډالر لیږل کیږي.
تمه ده چې طالبان او افغان حکومت د مذاکراتو اساسي مسایلو ته ننوځي، د دوی له ژورو اختلافونو څخه نور هیوادونه ناوړه ګټه او امتیاز تر لاسه نه کړي، بدبختانه همدا کار کیږي. او هره مذاکراتي ډله د خپلو ناستو او مذاکراتو د جزئیاتو یادښتونه ولیکي او کوم وخت یې د کتاب په بڼه افغان ولس ته وړاندي کړي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ